د مسلمانانو د اهمو عقيدو ذکر په شعرونو کښې

# اسلامي عقيده

(پښتو منظوم)


ليكوال

**مولانا احمدعلی مردانی**

فاضل جامعة العلوم اسلاميه علامه محمد يوسف بنوری ټاؤن کراچی



ناشر

**اسلامی ادبی ټولنه**

مردان خيبر پختونخوا 0312-9818511

بسم اللّٰہ الرحمٰن الرحیم

# تمهید

لویه خدایه ! ستا دا هر څهٔ دَ جهان دی
ددې سترګونه که پټ دی یا عیان دی
هر یو څیز باندې خبر ئې تهٔ خبیر ئې
ښهٔ لیدونکې دَ هر در ئې تهٔ بصیر ئې
هر یو څیز درته محتاج ددې عالم دے
دَ عرب دے یا کهٔ هغه دَ عجم دے
مستحق په هر طرف دَ عبادت ئې
تهٔ لائق دَ صفتونو هر ساعت ئې
ستا حمدونه ، ستا ثنا صفت تمام کړی
حقیقت دے ، دا خواص کړی دا عوام کړی
ستا په ذات یقین ساتل مدام لازم دی
ستا په اَمر دا څیزونه ټول قائم دی
ستا په ذات سره مادلته ابتدا کړه

وسیله مې دَ مدد جوړه اعلا کړه
مدد نهٔ غواړم له بل چانه هیڅ کله
روا نه دي راله سوال کُول له بله

# عقیده

مضبوطه غوټه، دا معنیٰ لري لغت کښې
فیصله مُستحکمه په شریعت کښې
د دین هر یوه خبره یقیني ده
ورسره تمامه ښکلې زندګي ده
کله یقین دے په خبرو د مذهب
کهٔ وي زمکه دَ عجم یا دَ عرب
زړهٔ کښې اُوسي چې مدام په لراوبر
زړهٔ کښې حق حسین پیغام په لراوبر
جداکیږي نه هیڅ کله دا له زړهٔ نه
ځان خبرول دي مونږ له دلته له هرځهٔ نه
عقیده کښې هم خواږه وي، هم تراخهٔ وي

عقيدې چې وي صحيح انسان به ښۀ وي
اجازت نۀ ورکوي مخالفت زړۀ
ورسره مدام ساتي پوره اُلفت زړۀ
زړۀ خفه ورسره تل په جدائي وي
هم ددې نه ابتداء دَ بندګي وي
هم په دې به انتها دَ بندګي وي
هم په دې سره بقا دَ بندګي وي
دَ اسلام په رنګ سره چې کلمه رنګ وي
بيا شيطان ورسره هرخواته په جنګ وي
وسوسې ورته شيطان کړي رنګ په رنګ
هرساعت ورسره دلته وي په جنګ
عقيده چې وي دَ چا اسلامي دلته
دَ شيطان نۀ کوي بيا غلامي دلته

## دَ عقيدې دوه قسمونه

ښې او بدې عقيدې په دې جهان شته

څـۀ ملـګـري دَ رحمٰـن ، څـۀ دَ شيطان شتـه
ښــۀ ده هــغــه عـقـيـده چـې دَ قــراٰن وي
ښـۀ صـحـيـح پـوره پـه حق پسې روان وي
دَ حـضـور ﷺ دَ پــاك سـنـت هم اتبـاع ده
عـقـيـده پــه عـقـيـدو کښـې دا اعـلا ده
دَ اصــحــابؓ پــه طــريـقـه چـې وي روان
دا ده سَـمـه عـقـيـده پــه دې جهــان
دغــه سـمـه عـقـيـده دَ هــر بشــر ده
دا چـې دلتــه کښـې ښــکاره پـه لـر او بـر ده
بـلــه دلتــه عـقـيـده د هــر مشــرك ده
دَ کــافــر دا وظـيـفــه دَ هــر مشــرك ده
مـخــالف چـې دَ سـنـت وي دَ قــراٰن وي
دا بــاطـلــه عـقـيـده بـه دَ جهــان وي
مـخـالف چـې دَ حـضـور ﷺ دَ صـحـابـۀ وي
دا بـه دلتــه کښـې غـلـطـه عـقيده وي
دوه قـسـمـونـه تـول تـمـام دَ عـقـيـدې شـو

خبــردار دَ خــاص وعــام دَ عــقيـدې شـو

# دَ عقيدې اهميت

درې څيـزونــه کــاميــابـې لـره ضـروری دی
دَ ژونــدون دا رڼــاګــانــې قــدرتــی دی
عــقيــده اولــنــې څيــز دَ جهــان دے
دا چـې سَمـه وی کـاميـاب هلـه انسان دے
دا بُـنيـاد پــه لــر او بـر دے هـر عـمـل لــه
عـمـل رنګ روغـن دے داسـې هـر مـحل لـه
دويـم عـمـل دے ، کـار کـوُل دی ښهٔ دُنيا کښې
ښــهٔ عــمــل ســره انســان وی پــه رڼـا کښې
دريـم اخـلاق کښې کـاميـابـی پرتـه هرخوا ده
هـر انســان لـره خــائسـت حُـسن ښـُکـلا ده
عــقيــده دَ کــاميــابـې جـزءِ اعـظـم دے
اهـم جــزء دَ کــاميــابـې پــه دې عـالـم دے
دا بُــنيــاد دَ کــاميــابـې دَ پــاره تـل دے

ورستو وروستو په دُنيا كښي بيا عمل دے
عقيده چي كله سَمه وي دُنيا كښي
هله دا انسان به وي حُسن ښُكلا كښي
هله دي انسان دَ پاره نُورنا ده
عقيده چي ورسره دَ مصطفیٰ ﷺ ده
عقيده چي موافقه دَ قرآن وي
هله دلته به كاميابه دا انسان وي
مخالف چي دَ قرآن وي خوك دُنيا كښي
هغه نۀ وينې به دلته په رڼا كښي
هغه لرے لرے دلته له قرآن وي
چي ملګري دَ ابليس وي دَ شيطان وي
قرآن سره ملګرتيا مونږ له پكار ده
ورسره مدام وفا مونږ له پكار ده
بيا سيرت دَ پيغمبر ﷺ اختيارول دي
پاك سيرت لره په ژوند ښۀ پيژندل دي
بيا عمل دے اول دلته عقيده ده

کامیابي له وسیله ده ، ذریعه ده
عمل هله دے دَ کار دَ یو بشر
عقیده چي سَمه وی نبه برابر
عقیده چي ورانه کله په جهان شی
عملونه ټول بیکاره دَ انسان شی
نهٔ اخلاق ئي پکاریږی ، نهٔ اعمال
عقیده چي کله پریږدي دَ جمال
مخالف چي شی روان دَ پیغمبر ﷺ
خنک کامیاب به شی دلته هغه بشر
اهمیت دَ عقیدې نبهٔ مسلم دے
دا بُنیاد دَ کامیابي په هر قدم دے

## مونږ په څهٔ کښې تقلید کوو؟

مقلدیُو دَ نعمان ابن ثابت
رهنما ډیر عالیشان ابن ثابت
فروعات کښې مقلد دَ خپل امام یُو

دَ امـــام تـہـول مـقـلـد دَ حـق کـلام یُـو
دَ ابـو مـنـصـورمـا تـریـدی پـه لار یُـو
دَ امـــام اشـعـریؒ سـره مَـل پـه دار یُـو
عـقـائـد د دوی تـمـام زمـونـږ دَ تـہـولـو
عـقـائـد دَ خـاص وعـام زمـونـږ دَ تہـولـو
پـه اُصـولـو کښـې دَ دوی تہول پیـروکـاریُو
پـوره پـوره مـونـږ دَ حق تہول تـابـعـداریُو
تـصـوف سـره تـړلـي تہـول تـمـام یُـو
پیـروکـار پـوره پـوره دَ دیـن اسـلام یُـو
پـه اول نـمـبـر قـراٰن مـنـو مـونـږ تہـول
مـعـتبـر دلـیـل بـرهـان مـنـو مونـږ تہول
اول هـرخـواتـه دلیـل زمـونـږه دا وی
مسـئـلـه چـې پیښـه کلـه پـه دُنیـا وی
بیـا دلیـل زمـونـږ دَ تہـولـو نُـورسـنـت وی
دا دلیـل زمـونـږ اعـلا دَ شـریـعـت وی
ورسـره حـل شـوې ډیـرې مسـئـلـې دی

نوري هم په کښي موجود ډيري فائدي دي
بيا اجماع دَ اُمَت مونږ لره دليل وى
چي خاموش قرآن ، حديث په څۀ تفصيل وى
مسئله ورسره حل هم دا ساعت شى
چي اجماع په مسئله ددي اُمَت شى
کله کله قول سره دَ امامانو
حل کيږى مسئلي دَ مسلمانانو
دا زمونږ دَ عقيدي دى بُنيادونه
نۀ دى نۀ دى جوړ له ځانه جوابونه

## دَ عقيدي مفهوم

چي دَ شك گنجائش نۀ لرى بيان
دا په زړۀ کښي چي وى دلته دَ انسان
شك نه لري لري دلته چي تمام وى
شك نه لري لري دلته چي کلام وى
مستحکمه ، يقيني چي فيصله وى

دَ انسان دا په دُنیا کښې عقیده وی

# دَ سَمې عقیدې فائدې

دا ښه سَمه موافق چې دَ قرآن وی
هله دې لره رضا دَ پاک سبحان وی
هله دۀ لره به قُرب دَ پاک نبی ﷺ وی
هله دۀ لره به قُرب دَ هر ولی وی
هله دۀ له راحتونه به تمام وی
هله دۀ به سکون په هر مقام وی
هله دۀ لره رښا ، حُسن ښُکلا ده
هله دۀ لره رُتبه لویه اعلا ده
هله دۀ له جنتونه په محشر دی
هله دۀ له نعمتونه برابر دی
موافق چې دا قرآن دا عقیده وی
له شیطانه به محفوظ په هر حصه وی

★★★★★★★

# دَ غلطې عقیدې اثرات

بعضې خلق په دُنیا دلته کښې شته دے
مجرمان خلق رُسوا دلته کښې شته دے
لرې دلته عقیده دلته غلطه
کتې لره ذریعه دلته غلطه
هر کله چې وی غلطه عقیده دا
نۀ جوړیږی دَ فلاح بیا ذریعه دا
دا چې کله هم غلطه په جهان وی
هغه وخت هغه بشر مَل دَ شیطان وی
دَ عزت نه لرے لرے دا بشر وی
رُسوائی ددۀ دَ پاره په هر در وی
د ذلت ورسره هر خواته سامان وی
بیا رُسوا به دَ محشر په لوئې میدان وی
جهنم دے، عذابونه ددۀ دَ پاره
ورسره نُور تکلیفونه ددۀ دَ پاره

ورسره به ډير ذليله وي رُسوا وي
مخالف چې دَ قران څوك په دُنيا وي
مخالف چې دَ رسول دَ پاك سيرت وي
زندګي كښې ذليله هر ساعت وي

## دَ اللّٰه تعالىٰ باره كښې عقيده

يو اللّٰه دے دا زمونږه عقيده ده
دَ نجات هم دَ فلاح دا وسيله ده
ورسره زړونه تمام تل په سكون وي
ورسره دَ سكون ډك تمام ژوندون وي
ډيره زياته دَ سكون ډكه نامه ده
دا له هرڅۀ نه درنه ده ، ښه خوږه ده
شريك نۀ لري ، تنها په كائنات دے
لائق صرف هغه يَو دَ عبادات دے
بندګي صرف دَ هغې ذات پكار ده
پوره نيغه دَ هغه دلته كښې لار ده
نۀ ئې مثل نۀ مثال شته په دُنيا كښې

نــهٔ ئـي مثــل مثال دلتــه شتــه ويـنـا کښـې
تــش پــه کُــن سره چې غـواړي پيـدا کيــږي
تــش پـه کُن سره ، چې غـواړي هغـه کيـږي
نيشتــه نيشتـــه دے فـنـا ورلــه هيڅ کلـه
ذات کــامـل دے ښـــهٔ پـوره پوره پـخپلــه
لــه اولــه دے مـوجـود پــه کـائـنـات کښـې
پـکــاريــږي زمـونــږهرخوا مشکلات کښـې
خوب نــه پاك دے هغـه ذات دلتـه قَيُّوم دے
ښـکــاره پـټ پــه صـفـتـونـو ښــهٔ معلوم دے
هـرطـرف تــه دے مـوجـود پــه کـائنات کښې
شـريك نـهٔ لـري پـه ذات کښې په صفات کښې
عـــاجـز نـــهٔ دے طــاقـتـور دے عــاليشــانــه
خبـــرداره دے دُنيـــا کښــې لــــه هــرڅـانــه
رهـــنـــمـــا دَ نيـغـــې لار زمـــونـــږ دَ ټـولـو
نــوم ئــې دلتـــه کښــې مدام دے دَ يـادولـو
هـم سَـميـع دے هـم بـصيـــر دَ هغـــه ذات

داســـې دلتــــه لـــري ډيـــر درانـــۀ صـــفـــات
پـــه صـــفــــاتــــو ســـره هـغــــه ازلـــی دے
پـــه صـــفــــاتــــو ســـره هـغــــه ابـدي دے
لَـــمْ يَـلِـدْ اولَـمْ يُـوْلَـدْ پـــه دې عَــالـم دے
دَ مــخـلـوق خـــالـق هـغـــه ، هُـم دَ اٰدم دے
ژونـدي کـول صـفـت هـغـــه دُنـيـا کښې
ژونـدي کُـول دَ مـــړي هـــم دربَ صـفـت دے
پـه هـرڅيـز بـانـدې قــادر دے حقيقت دے
لــــه هـــرزړۀ نــــه خبـــرداره هـــرطـرف تـــه
نيـغـــه ، نيـغـــه لـــري لاره هـــرطـرف تـــه
ټول مـخـلـوق ورتـــه محتـاجـه هرساعت دے
هـغـــه مـونـږلـــه رالـيـږلـے شـريـعـت دے
جـــنتـــونـــه هـغـــه ټـول دی پـيـدا کـــړي
نـــعــمتــونـــه هـغـــه ټـول دی پـيـدا کـــړي
دروغـــژن نـــۀ دے ريښتـونـې زمـا ربَ دے
دَ مـــولا کـــلام بُـنـيـــاد دَ ديـــن مـذهـب دے

دَ تقدير هغه خالق دے ځان خبر کړه
ځان اسلام ته دَربّ دين ته برابر کړه

## دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ متعلق عقيده

محمد ﷺ دَ پاك اللّٰه غوره نبي ﷺ دے
عقيده لرم امام دَ هر ولي دے
عقيده لرم امام دَ انبياء دے
مخلوقاتو کښې له ټولو نه بالا دے
آخرين کښې انبياء کښې په ترتيب
له هرچا نه پاك اللّٰه دے قريب
نبوت ئې آخيري دے په دُنيا کښې
رسالت ئې آخيري دے په دُنيا کښې
نيشته نيشته بل له دوی نه پس رسول
نۀ نبي ﷺ راته وروستو دے بل قبول
اولين دے په رُتبه کښې له هرچا نه
وروستو وروستو په ظهور کښې انبياء نه

دا مـــي دلتـــــه عـــقيــده پـــه هـــر قــدم ده
رښــــا دلتــــــه دَ عـــــرب هــم دَ عـــجــم ده
دَ اســــلام حـــقـــــه اهـــمــــــه عــقيــده ده
دَ نـــجـــات ډيـــره اهـــمـــــه ذريـــعــــــه ده
مـخلـوقاتو كښې زيات علم دَ حضور ﷺ دے
مـخلـوقــاتــو كښې هــرچا لــه دَ ژوند نُور دے
په ورضه كښې زمونږ پاك نبی ﷺ حيات دے
دا حيـــات اعـــلا زمــونــږ لــه كــائـنـات دے
بــرزخــی حيــات حــضــور ﷺ لــره ثـابـت دے
سيّــد البشـــر پُــر نــور لـــره ثـــابــت دے
تـــذكـــره دَ ولادت چـــې دَ حـــضــور ﷺ وی
خــامـخـــا بـــه ورســره ښُــكـلا وی نُـور وی

# غوره درود شريف

غـــوره دی چــــې دَ مـــونــــږ اُولـــو درود
درود هـغــــه چـــې مـنــقــول دے دا مــوجـود

زیات دَ هغې په جهان دے فضیلت
اتباع په کښې پوره دَ پاك حضرت ﷺ
چې ثابت دے تمام له محمد خیرالابرار ﷺ دے
خوشبودار په هرصفت تمام گفتار دے
غیر منقول درود لوستل جائز روا دي
خو منقول لوستل ډیر غوره دي اعلا دي
فضیلت دَ رحمتونو لوئې سبب دے
لازمې ورسره هرخواته ادب دے

# دَ قرآن متعلق عقیده

قرآن حق دے نازل شوې له آسمان دے
نازل شوې دا تمام له پاك سبحان دے
هریو حرف ئې حق پوره پوره تمام دے
دا چې څومره دلته دے دَ ربّ کلام دے
ابتداء دَ نزول غارِ حرا کښې
دا چې مونږ سره قرآن دے په دُنیا کښې

نازل شوي دَ جبرئيل په ذريعه دے
کاميابي لره هرخواته وسيله دے
احکامات په کښي تمام دَربّ مولا دي
نازل شوي دا تمام په مصطفیٰ ﷺ دي
هريو حکم يو رڼا دَ هدايت ده
هريو حکم کښي ښُکلا دَ شريعت ده
هريو حکم سره خير دلته خوريږي
هريو حکم سره اَمن پيدا کيږي
هريو حکم يقيني دَ حق کتاب دے
هريو ټکي په کتاب کښي لاجواب دے
ثاني نۀ لري بے شکه ټول تمام
هدايت لره تمام دَ خاص او عام

## د صحابۀ رضی متعلق عقيده

صحابۀ چي څومره دلته دَ نبي ﷺ دي
افضل غوره دوی تمام له هر ولي دي

هــــريــــو ســــره مــــحبــت دلتـــــه لازم دے
اتبـــــاع ئــــې اطــــاعـــت دلتــــــه لازم دے
تـول پــــه شــــان لــــه دَ ستــــورودَ اسمــــان دي
صـحـابــهؓ چـې څـومـره دلتـه پـه جهان دي
هـــــريــــو ستـــــورې دے کــــامــــل دَ هـــدايـــت
هـــريــــو مــــونـــږ تــــه دے ښـودلـے شــريـعـت
دوی ســـــره مينــــــه لازم پـــــه هــــر بشـــر ده
يــــو حـــصـــــه دَ ايـــمـــــان دا پـــــه لــر او بــر ده
کيـــنــــــه دوی ســـــره ســــاتــل کــلــــه روا ده
مينــــــه دوی ســـــره لازم پـــــه دې دُنيــــا ده
چــې کيـنـــــه ســــاتــي ورســــره څـوك حَسـد
کـــــار دُنيــــا کښـــې دَ شـــريــــر دے دَ هـــر بــد
بُــغــض دوی ســـــره ســــاتـــل کــلـــه روا دي
دا خــــو تــول زمـــونـــــږ دَ تـولـــو خيــرخـوا دي
بُـغــض دوی ســـــره ســــاتـــل کُــفــر تـمــام دے
دَ نـــفـــاق عـــلامــــت هـــم پــــه هــــر مقــام دے

# دَ څلورو خلفاء متعلق عقيده

دَ حضور ﷺ نه پس وُجود دَ خلافت
مونږ حصه ګڼو هغه دَ شريعت
دوي سره بقا دَ دين دَ شريعت ده
د دوي ژوند کښې اتباع دَ پاك حضرت ﷺ ده
اول نوم دے دَ صديقؓ په خلفاء کښې
مثالي دے دَ حضور ﷺ په اتباع کښې
نورسنت ئې دَ ژوندون اهم حصه ده
دَ اغيار دَ پاره ژبه ئې ترخه ده
مينه مينه محبت دے مسلمان له
راشه راشه د دوي هر ښکلي بيان له
خلفاء کښې دويم نمبر بيا دَ عمرؓ دے
عاشقانو کښې عاشق دَ پيغمبر ﷺ دے
دَ حضور ﷺ په هر ادا باندې فدا دے
رهنما زمونږ دَ ټولو ښهٔ اعلا دے

مثـــالـــی ئـــي دَ عــدل انــصــاف ده تـلــه
تــمـــام اُوګــوره سيــرت د دوی پــخپـلـــه
دريــم نـمبر پـه خلفاء کښي دَ عثمـانؓ دے
پــه لـقــب ســره دوی جــامع الـقـراٰن دے
خـدمـت ګــار دَ ديــن اسلام دَ شريـعـت دے
دوی مــونــدلے لـوئي مقـام دَ شهـادت دے
هـــريــو قــول ســره بـــالا ، اعــلا جُـدا دے
رهـــنـمـــا زمــونـــږ دَ ټـولـو پـــه دُنيـــا دے
څــلـــورم نــمبـــر دَ حــضـــرت عــلـــیؓ دے
رشتـــه دار ښــۀ قـــريبـــی دَ پـاك نبی ﷺ دے
رهـــنـمـــازمـــونـــږ دَ دين پـــه هــر قـدم دے
زمـــونـــږ اعــلا رهـــنـمـــا ددې عـــالـــم دے
دا تــمـــام اصــحـــابؓ دي ستـــوري دَ اٰسمـــان
ورســـــره مـيـــنـــــه لازم ده پـــــه جـهـــــان
بُـغــض دوی ســره روا نـــۀ دے هيــڅ کـلـه
نـــۀ روا دی ، نـــاروا اوري لـــــه بـلـــــه

زيـــرې دوي لـــه ښـــۀ پـوره شتــــه دے عيــان
دَ جـــنـــــت دي دوي تـــمــــام ټـول خــــاونــدان
دا اصـــحــابؓ دي پـــه ترتيـب سره ټول غـوره
عـــــقيـــــده ده خـــــوشبــــو داره بـــــرابــــره

# دَعشره مبشرهؓ متعلق عقيده

پـــه تــرتيـــب سـره دي غـوره ټـول څـلـور
دَ جــنـــــت دَ زيــــرى شپـــږ خـلـق دي نُـور
دا تــمــام چـــي شـــى راجـمع دا شـول لـــس
يــاد دي دلتــه کښـي ساتـی پوره هرکـس
پـــه دُنيــا چـــي ورلـــه زيـرې دَ جنـت دے
ددې لَـــس صـــحـــابـهؓ بيـل دا فـضيلت دے
يـو صـديقؓ دے ، ورپسے حـضرت عمرؓ دے
دريـم عثـمانؓ دے ، ورسره عـلي حيدرؓ دے
دَ طـلـحــهؓ ، زبيـرؓ مـقام ښکاره عيان دے
دَ ابــــوعبيــــدهؓ ذکـــــر پـــــه جهـــــان دے

هم سَعدؓ ، سعيدؓ سره عبدالرحمٰنؓ
دوي مونډلي زيري دلته کښي عيان
جنتان دي دا تمام وائي حضورﷺ
دوي سره دے دَ اسلام شريعت نُور
مونږ ددي خبري دلته کښي اقرار کړو
دا خبره مونږه ښه پوره په جار کړو

## دَ اٰلِ رسول ﷺ سره مينه

دَ اصحابؓ په مينه زړهٔ چي وي آباد
زړهٔ کښي نهٔ لري حسد ، نفاق ، فساد
اٰل سره به دَ نبي ﷺ مينه ددهٔ وي
فکر هيڅ کله غلط به ددهٔ نهٔ وي
کولے فرق به شي غلط او په ښهٔ کښي
دَ ازوج سره به مينه لري زړهٔ کښي
دَ قراٰن ښهٔ موافق به په ژوندون وي
ورته ګوره هرطرف ته په سکون وي

داسې ښکلې عقیده چې هم دَ چاوی
هم اٰخر به ئې خائسته وی هم دُنیا وی

# عقیده دَ شفاعت اوحوضِ کوثر

څنګ چې حق دے شفاعت دَ پیغمبر ﷺ
حق دے دغه شان ګڼل حوض دَ کوثر
یو عطا په اٰخرت کښې دَ مولاده
څکل کوثر له تمنا دا دَ هرچا ده
محمد رسول الله ﷺ به ورسره وی
عجیبه دَ محشر تول به نقشه وی
محمدرسول الله ﷺ دلته ساقی دے
مستحق ئې دَ حضور ﷺ هر اُمَتی دے
څکل کوی به له دې نه تمام اُمت
تکی تکی اُمتیان دَ پاك حضرت ﷺ
شفاعت شته دَ نبی ﷺ عظیم امَت له
راشه راشه نزدې راشه نُور سنت له

عــقيــده لـــرمـــه دادَ شـفـــاعـــت
ورســـره ســـاتــمـــه ميـنـــه مـحبـت

# متفرق اهم عقيدې

شـريك نيشتـه دَ مولـىٰ سره په ذات كښې
شـريك نۀ لـري هيـڅ څوك پـه كـائنات كښې
دا تــوحيـد دے پـه دې كلك زما ايـمان دے
دا تــوحيـد دے دا پـــه جـار زمـا اعـلان دے
مـالك دے دَ خيـر او شـر پـه كـائـنات كښې
شـريك نۀ لـري مـولـىٰ پـه خپل صفات كښې
عــقيـده دَ خيـــر او خيــر دا دَ تــقـديـر ده
عـــقيـــده پـــوره پـــوره دا دَ تـــدبيـــر ده
مـــالك دے د خيـــر او شـــر ربّ ذوالـجـلال
مـــالك دے دَ لـــر او بـــر ربّ ذوالـجـلال
داســـې ذات دے دَ مــولـــىٰ ربُّ الــعـــزت
هـــر صـــفـــت ئــې دے بـــالا بـــره اُوچـــت

په صفاتو كښې يكتا هغه تنها دے
دا مالك زمونږ دَ ټولو په دُنيا دے
نۀ دے نۀ دے چاته دلته كښې محتاجه
رغوى هغه مالك هر لاعلاجه
مالك دې دَ ټولو زمكو اسمانونو
مالك هغه دے دَ دې ټولو څيزونو
فرشتې ئې پيدا كړې نوراني دى
په وجود سره اعلا دى ښې قوى دى
انبياء سره په جمع رسولان ټول
پيدا كړي په دُنيا كښې پاك سبحان ټول
حق دَ هغه دى تمام ټول كتابونه
په كښې ذكر دى ښكاره تمام حكمونه
دَجنت ، دَ جهنم هغه خالق دے
عرش دَ لوح هم دَ قلم هغه خالق دے
دَكرسې خالق هغه ، داسې سلطان دے
حق دَ هغه هريو ټكې هريان دے

حق دے پُل دَ صراط دا مې عقیده ده
حق دَ پاك الله مونږ سره هر وعده ده
دَ میزان تله هم حق ده په محشر کښې
دا راتلونکے ده انسان ته په نظر کښې
مقرر ده یوه ورځ حساب دَ پاره
مقرر ده یوه ورځ ثواب دَ پاره
په دې ټولو زما دلته کښې ایمان دے
زما دلته کښې په جار دغه اعلان دے
دَ احمدعلی هم دغه عقیده ده
دَ نجات دَ فلاح لویه وسیله ده

# دَ فِرقِ باطله متعلق عقیده

قادیانی لعین مرتد لعین کافر دے
مخالف چې دَ اسلام ښکاره ظاهر دے
مخالف چې دَ حضور ﷺ پوره تمام دے
داسې هر یو شر لعین په هر مقام دے

مخالف چې دَ حضور ﷺ په لر او بر دے
مخلوقاتو کښې له هر چا نه بدتر دے
چې منکروي څوك له ختمِ نبوت نه
منکر دے په حقیقت کښې شریعت نه
دَ اسلام نه دې منکر په دې عمل دے
دَ اسلام غور ځولې حسین محل دے
دَ اسلام نه لرے لرے دا انسان دے
مخالف چې د حدیث او دَ قرآن دے

★★★★★★★

# دَ مسلمانانو 27 ويشت اهم عقيدې

# بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

# عقيده نمبر1

## دَ توحيد عقيده

يَو اللّٰه دے شريك نۀ لری په ذات كښې
شريك نۀ لری هغه په خپل صفات كښې
زما دي ايمان په هر قدم دے
دَ بقا بُنياد عرب له دَ عجم دے

# عقيده نمبر2

## دَ صفاتِ الٰهيه عقيده

هغه ذات زمونږ دَ ټولو مددګار دے
هغه ذات سره كامل پوره ګفتار دے
هغې ذات سره اسباب ټول دَ نجات دی
دَ هغۀ په لاس كښې هرڅۀ دی، حالات دی
دَ دُنيا ، اٰخرت يَو هغه خالق دے

یو مالك مونږ دَ ټولو دے رازق دے
پیدا کړې ئې دي زمکې اسمانونه
پیدا کړې دي تمام هغهٔ څیزونه
په دې هرڅهٔ دلته کښې یقین ساتل دی
دا پوره پوره له زرهٔ نه ټول منل دی
دا عمل چې وی په زړهٔ دا عقیده ده
دَ جنت دَ حاصلولو ذریعه ده

## عقیده نمبر3

### مشکل کُشا یَو اللّٰه دے

یو دَ ټولو په جهان مشکل کشا دے
دا مالك زمونږ دَ ټولو یَو اللّٰه دے
زما هرخواته بس هغه پکاریږی
ورسره زړونه دُنیا کښې قلاریږی

★★★★★★

# عقيده نمبر 4

## دَ وحی متعلق عقيده

هر يو قول دَ مولا حق ريښتيا تمام دے
کلامونو کښې اُوچت دَ ربَ کلام دے
مخالف چې څوك هم دلته په دُنيا دی
هغه خلق په غلطه په خطا دی
عقيده دغه ايمان له لازم ده
عقيده دا مسلمان له لازم ده
مخالف ددې مدام به هر شيطان وی
مخالف به دَ حضورﷺ وی دَ قران وی

# عقيده نمبر 5

## دَ مديني سفر مُوجبِ ثواب

دَ حضورﷺ روضې له تلل کار دَ ثواب دے
مسلمان هر يو عاشق دَ هغې باب دے
دَ حضورﷺ روضې له تلل نُور سعادت دے

رڼاکور ورسره تول دَ آخرت دے
وسیله ذریعه مونږ له دَ قُربت دے
درجات دَ انسانانو اُوچیږی
په طرف دَ مدینې چې روانیږی
ذریعه هم ثواب دَ قُربت ده
دا توښه ښکلي اعلا دَ آخرت ده
دَ حضور ﷺ روضې راتلل لویه نیکی ده
ښکلي ښکلي ورسره دا زندګی ده

# عقیده نمبر 6

## دَ مدینې سفر

مدینې ته چې کوی کله سفر
نیت دي اُوکړي دَ دیدن دَ خپل دلبر ﷺ
خامخا دا نیت پکار دے مسلمان له
طلبګار چې دَ ثواب وی هر انسان له

★★★★★★

# عقيده نمبر7

## دَ حضور ﷺ امتيازي شان

غوره ده هغه حصه له عرش، كرسي نه
ځان خبر كړه پوره پوره بندګي نه
متصل دَ پاك حضور ﷺ بدن سره
زمكه هغه مُتّصله تن سره
معطره هغه زمكه په جهان ده
اعلا اعلا په دُنيا له هر مكان ده

# عقيده نمبر8

## حضور ﷺ ته دَ شفاعت دَ پاره التجاكول

التجا دَ شفاعت كوُل نبي ﷺ ته
اجازت دے مسلمان ته، هر ولي ته
التجا درخواست كوُل دَ شفاعت دي
شني روضې سره موجود چې دَ حضرت ﷺ دي
اے محبوبه! شفيع جوړ مې برابر شه

اے محبوبه ! شفیع جوړ مې په محشر شه
وسیله جوړوُل ځان له په دُعا کښې
هرطرف ته کامیابې له په دُنیا کښې
کامیابی په حقیقت کښې دَ محشر ده
قُرب سره تړلې دا دَ پیغمبر ﷺ ده
شفاعت سره تړلې ټوله دَ دلبر ﷺ ده
تمنا دَ مسلمان په لراوبر ده

# عقیده نمبر9

## روضې سره درود شریف لوستل

چې روضې سره وائی درود سلام
هغه اَوري پخپله خیرالانام ﷺ
لرې لرې چې وی څوك هم له روضې نه
لرې لرې چې وی څوك له مدینې نه
فرېښتې ورسوُی ورته سلام
ورسره درود حضور ﷺ ته ټول تمام

# عقيده نمبر 10

## دَ حضور ﷺ دَ حيات عقيده

دَ حضور ﷺ حيات ثابت دے په روضه کښې
مکلف نه دے په هغې باغيچه کښې
دا حيات تول برزخي دے ځان خبر کړه
ځان خبر له حقيقت نه په هر در کړه
دُنياوي حيات نه بره ډير اُوچت دے
دا زمونږ دَ نبي شان دے فضيلت دے
دُنياوي حيات سره دا مشابه دے
دلته دي صفات سره دا مشابه دے
له سوچ فکر نه اعلا ډيره اُوچت
ځان خبر کړه له حضور ﷺ په دي صفت
له هر سوچ نه ډيره بره بره
نوره نۀ کيږي په دي کښې څۀ خبره

★★★★★

# عقيده نمبر 11

## په ادب سره روضې ته دَ حاضريدلو طريقه

دا بهتـردی مـخـامـخ چې شی روضې تـه
چې ورغلي څوك وی هغي باغيچې تـه
مـخـامـخ دې ورتـه مـخ دَ مسلمـان وی
پـه ادب ورتـه ولاړ دې دا انسـان وی
بيـا درود ورسـره وائـی دې سـلام
عـاجـزې سـره پـوره پـوره تـمـام
دَ روضې چې کوی کله څوك ديدار
دَ ادب دا طـريـقـه دې کـړی اختيـار

# عقيده نمبر 12

## دَ حضور ﷺ مختلف امتيازی اوصاف

څنګ ثابت چې دے حضور ﷺ لره حيات
ورسره د حضور ﷺ نور دی ډير صفات
مونږ ثابت ورلـه روضه کښې په جهان دے

علم سره متصف زمونږ جانان ﷺ دے
حُسن هم پوره ثابت دے پاك نبي ﷺ له
اعمال رَسي دَ امَت تول مدني ﷺ له

# عقيده نمبر 13

## بعد از وفات دَ نبوت عقيده

نبوت له زوال نيشته په وفات
رسالت له زوال نيشته په وفات
دَ وفات نه پس باقي هغه صفت وي
دَ رسول ﷺ سره صفت دَ رسالت وي
دَ حضور ﷺ سره چې څومره انبياء دي
مُتَصف په دې صفت سره هرخوا دي
نبوت له دوی نه بيل نۀ دے روضو کښې
مُتَصف په دې صفت دي باغيچو کښې
عقيده زمونږ دَ ټولو دا تمام ده
عقيده ، اهم حصه دَ دين اسلام ده

# عقيده نمبر 14

## دَ اَفضليت عقيده

په تمام مخلوق كښې غوره محمد ﷺ دے
عقيده لرم بهتره محمد ﷺ دے
له هرچا نه زيات قريب دے پاك اللّٰه ته
مسئله دغه بيان كړه دې دُنيا ته
رسيدې نه شي ئې څوك هم مرتبې ته
لاړشه، لاړشه كۀ عاشق ئې مدينې ته

# عقيده نمبر 15

## دَ ختمِ نبوت عقيده

په نبيانو كښې خاتم الانبياء ﷺ دے
له هرچا نه مخلوقاتو كښې اعلا دے
نيشته نيشته نبوت له دوى نه پس
دروغژن به وى دعوىٰ چې كړي يَو كس
اخرين دے انبياء كښې محمد ﷺ

سلسلې هغې اعلا کېږي محمد ﷺ
رسالت په دوی تمام دے دوی خاتم دے
نبوت په دوی تمام دے دوی خاتم دے
عقیده زمونږ دَ ټولو به مدام وی
همیشه به ورله دغې لوئې مقام وی

# عقیده نمبر 16

## دَ قادیانی معلون دَ کفر عقیده

قادیاني لَعِیُن منکر دَ دین اسلام دے
مخالف دَ خوږ نبی ﷺ په هر مقام دے
دعویدار دَ نبوت هغه معلون وو
مخالف د دین اسلام په ټول ژوندون وو
قادیاني دنبوت چې دعویدار وو
مخالف دَ مُرسلانو دَ سردار ﷺ وو
دا زمونږه عقیده ده چې کافر دے
دَ اسلام دَ شریعت نه ټول باهر دے

هم په پټه ښکاره مَل دَ هر شيطان وو
په غلطه لار پوره لعين روان وو
دَ ابليس شيطان ملګري قادياني دے
مخالف د دين اسلام دا پخواني دے

## عقيده نمبر 17

حضور ﷺ ته فقط دَ مشر وروړ نسبت

څوك ګڼي چې پاك حضور ﷺ له مشر وروړ
ورله نه منى مقام علاوه نُور
بس په دې باندې قائم چې په دُنيا وى
كافر دا سړي په دې به خامخا وى
داسې دلته كښې دَ چا چې عقيده وى
دَ ايمان نه به محروم په هر حصه وى

## عقيده نمبر 18

دَ حضور ﷺ علم

ربَ وركړې دے زيات علم كائنات كښې

لــه هرچــا نــه هـرطـرف تـه مخلوقات کښې
داسې دلتــه لوئې مقام دَ مصطفیٰ ﷺ دے
دَ عـــلـــو مـــو ابتـــدا دے، انتهـــا دے
نــه نبــی ﷺ، نــه فـرشتې ورتــه رسیــږی
دَ آقـــا ﷺ مــقــام چــې کـلــه بیــانیــږی
دا عـــلـــوم دَ ربّ عـــطـــا ده، نـــور رڼـــا ده
پـــه دُنیـــا پـــه هـــرطـــرف حُسن ښُکلا ده
دا زمـــونـــږه عـــقیـــده ده خبـــردار شـــے
خبـــردار زمـــونـــږه دلتـــه پـــه افکـــار شـــے

# عقیده نمبر 19

## دَ حضور ﷺ نه زیات عالم څوك ګڼل منع دی

مـصـطفـیٰ ﷺ نـه ماسوا په دې جهان څوك
زیــات عــالــم ګـڼـی چـې کلـه یَو انسان څوك
بـــس پـــه دغـې عـقیـدې هغـه کـافـر شی
حـکــم دا ورلـــه ښـکــاره پوره ظـاهـر شــی

# عقیده نمبر 20

## درود شریف دَ حضور ﷺ دَ قُرب ذریعه

چې څوک قُرب دَ پیغمبر ﷺ غواړی دُنیا کښې
درود خپله وظیفه دې کړی وینا کښې
دا عمل ددهٔ دَ پاره مستحب دے
خوښ دُنیا کښې دا عمل زمونږ دَربّ دے
په درود سره حضور ﷺ هم خوشحالیږی
ورسره رحمت له بره نازلیږی
دا عمل دَ کامیابی دَ پاره تل کړه
دا عمل په عملونو کښې زر خپل کړه
درود غوره درودونو کښې منقول دے
غیر منقول له هر بشر نه هم قُبول دے
درودِ ابراهیمی غوره له ټولو
دا عمل دے په دُنیا دلته دَ کُولو
دا زمونږه نن په جمع عقیده ده

دَ محشر ده ګټه ده توبه ده

# عقيده نمبر 21

## دَ حضور ﷺ تذکره دَ سعادت ذريعه

تذکره دَ پاك نبي ﷺ کول هرچاله
دَ ثواب به ذريعه ده ما او تاله
يادول حضور ﷺ له دَ خير سبب دے
يو سبب رضا دَ پاره دا دَ ربّ دے
تذکره کۀ دَ حضور ﷺ دَ ولادت وي
باعث دلته کښي مدام ئي محبت وي
دَ سفر حضر حالات تمام د دوي
ملغلري دي صفات تمام د دوي
دَ محبوب په ذکر سره زړۀ قلار وي
ورسره سکون مدام په هريو دار وي

★★★★★

# عقیده نمبر 22

## دَ حضورﷺ خوب

خوب كولو چې به كله پاك نبیﷺ
بیدار زړهٔ به تهٔ ول تمام وو دَ هغوی
صرف سترګې په خوب وے دَ آرام
خوب كولو چې به سیّدالانامﷺ
ناقص نهٔ به وو اودس لره دا خوب
داسې دلته وو زمونږ دَ آقاﷺ خوب
خبردار شے دا زمونږه عقیده ده
دا زمونږه دَ ایمان یوه حصه ده

# عقیده نمبر 23

## خوب دَ وحی په حكم كښې

خوب دَ پاك نبیﷺ تمام وو وحی وحی
پټ په پټه یو پیغام وو وحی وحی
حكم دې كښې دَ مولا به هم راتلو لو

هر كلـه چـې پـاك نبـي ﷺ بـه خوب ليدلو
حـديـث دي بـانـدي دلـيـل دَ بـخـاري دے
مسـتـنـد پـه حـديثـونو كـښـي قـوي دے

# عقيده نمبر 24

دَ حضور ﷺ وروستو خلقو ته نظر

مـخـامـخ تـه ښنګ چـې پاك نبـي ﷺ كتل
دا كـۀ وروسـتـو وو حـضـور ﷺ بـه هـم ليـدل
دَ حـضـور ﷺ دا امتيـاز صـفـت جُـدا وو
هـرڅيـز دوی تـه مـخـامـخ سَـم دَ دُنيـا وو
مـخـامـخ بـه ښـكـاريـدو دوی تـه مـدام
هـم آګـاه دَ وروسـتـو خـلـقـو وو تـمـام
بـخـاري كـښـي پـه دې ښتـه قـوي دليـل
نـور پـكـار دے هـلـتـه اُوګـوره تـفـصيـل

★★★★★★

# عقيده نمبر 25

## دَ څلورو امامانو تقليد

دا څـلـور چـي پـه دُنيـا کښـي امـامـان دي
پـو هـه تـول پـه حـديثـونـو پـه قـرآن دي
فـروعـاتـو کښـي لازم د دوي دَ تـقـليـد دے
ضـلالـت لـه دوي نـه لـرے دے بـعـيـد دے
دَ اصـحـابؓ دَ شـاګـردانـو شـاګـردان دي
دَ اصـحـابؓ دَ پيـغـمبـر ﷺ پـه لار روان دي
چـي تـقـليـد دَ يـو امـام پـوره تـمـام وي
هـلـه بـچ بـه لـه فسـاد نـه دا عـوام وي
تـقـاضـه دغـه دَ وخـت دَ نـن حـالاتـو
ځـان خبـر سـاتـه پـوره لـه احـکـامـاتـو

# عقيده نمبر 26

## بيعت کوُل

عـقـائـد چـي دَ انسـان درسـت تـمـام شـي

ښـــهٔ آګـــاه پـوره پـوره چـې لـه اسلام شی
بیـــا دي هـغـې شیـخ لـه لاړ شـی پـه جهـان
چـــې پـــوره قـــوی لــــری هـغــــه ایـمـــان
دَ اسـلام پــــه تـلــــه هـغـــــه چـــې پوره وی
پـــوره کــــړي ئـــي دَ دیـــن هــــره وعــــده وی
دهٔ ســــره دې کیـــنـــــی دا بشــــر دُنیــــا کښـــې
ورســـــره دې دا بشـــــر کیــنـــــی رنــــا کښـــې
هـم ددې صــــالـح پــه لاس بیـعـت پـکـــار دے
مستـــحـــب دغــــه عـمـل پــه هریـو دار دے
مستـــحـــب دغـــــه عـمـل دے هــر بشــر لـــه
مستـــحـــب دغـــــه عـمـل دے لــر او بــر لـــه
دَ تـــــقـــــوىٰ ذریــــعــــــه دا دلـتــــــه اعــــلا ده
وسیـــــلــــــــه دَ انـــــوارتـــــو پــــــه دُنیــــــا ده
بیـعـت خـوښ دَ هــر صــالـح پـه هـرمقام دے
دا ثـــابـــت لــــه مـحـمـد خیــر الانـام ﷺ دے

# عقيده نمبر 27

## دَ الله دَ کلام په باره کښې عقيده

کـلام هـغـه دَ مـولا پـه هـر طـرف
کـلامـونـو کښـې بـالا پـه هـر طـرف
کـلام دَ هـغـه دَ مولا چې وي ريښتيـا دے
کـلامـونـو کښـې لـه هـر کلام بـالا دے
احتـمـال دَ کـذب نـهٔ لـري کـلام دا
عـقيـدې دي لـري دلتـه خـاص او عـام دا
مـخـالف ددې دَ چـا چـې عـقيـده وي
دَ اسـلام نـه بـه محـروم پـه هر حصـه وي
دَ الـلّٰـه کـلام بـالا لـه هـر کـلام دے
درونـد اُوچـت لـه پيـغـام نـه دا پيغـام دے
دا مـنـل دي دَ ايـمـان بـقـا دَ پـاره
نيـغـه نيـغـه دَ اسـلام ده دغـه لاره

★★★تمت بحمد الله تعالىٰ★★★